UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**یوناما د سولې د عالي شورا د نوی مشر د ټاکنې هرکلی کوي**

**کابل ، د ۲۰۱۲ کال د اپریل ۱۴ نیټه** - د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د سولې د عالي شورا د نوي مشر ښاغلي صلاح الدين رباني د نوي مشر په توګه د ټاکنې هرکلی کوي.

دغه ټاکنه د دې امکان برابروي چې د سولې او پخلاینې د بهیر د پیاوړتیا لپاره هڅې نوې شي. یوناما د نړیوالې ټولنې په استازیتوب پخپل چمتوالي باندې ټینګار کوي څو د دغې شورا سره د هغې د کار او فعالیت د پرمخ بیولو په برخه کې تخنیکي ملاتړ وکړي.

د سولې د عالي شورا سره د یوناما ملاتړ د امنیت د شورا د هغه ورکړی شوي ماموریت پر اساس دی چې له مخې یې د افغانستان د دولت او خلکو سره د پایښت لرونکې سولې او پرمختیا د بنسټونو اېښودلو لپاره مرسته وشي. په دغه ماموریت او دنده کې د ملي پخلاینې سره د ملاتړ او د سیمه ییز ډیالوګ او د شمولیت د پروسو د هڅونې نقش شامل دی چې موخه یې په افغانستان کې د سولې رامنځته کول او د هغی تداوم دی.

---